مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۱/۰۸/۲۸

# بې بنګو وزرې

د اګست په پنځلسمې، د امريکا يوه بوينګ سي ۱۷پوځي الوتکه د قطر د العُدَيد په اډې کې ښکته شوه چې ټايرونه يې د ښاپستوکي ۱۹ کلن افغان فوټبالر، ذکي انوري په وينو ککړ پکړ وو. په دغې الوتکې کې زموږ ۸۲۳ تنه کيچ او ترهيدلي وطنداران يو د بل په تخرګ کې ننوتي وو؛ نه ور سره د کورونا ويره وه او نه د محرم او نامحرم ترمنځ د واټن انديښنه. د حامد کرزي د هوايي ډګر څخه پورته کيدل او د فارس خليج د رڼو اوبو د پاسه پرواز، د پل صراط بڼه خپله کړې وه. ښايي دوئ به انګيرله چې يوې خوا ته د ځلورو لسيزو په تنور کې وريت شوی افغانستان دی او بل پلو ته د غربي نړۍ د ټولنيز عدالت او مزو ګزو خيالي جنت.

دوه اونۍ وشوې چې له يو کمکي ولايت پرته، ټول هيواد د طالبانو د اسلامي غورځنګ د زمبر لاندې دی. خو بيا هم د نړۍ د معتبرو رسنيو د سر خبر، د دوئ عسکري برې او د افغانستان ګونګه راتلونکې ده. د طالبانو دوهم ځل واکمنۍ، عربي نړۍ په دوو قطبونو ويشلې ده. يو د جهادي فکر، اخواني ذهنيت او د فلسطين او اسرائيلو په تاريخي لانجې کې د امريکا د سياستونو مخالف عربان دي. دوئ بلا ناغه ځموږ د سيمې د مذهبي ګوندونو په څير، يو بل ته مبارکۍ ورکوي او نقل او پتاسې شيندي.

بل لوري ته د امريکا، پيرنګيانو او فرانسي سيمه ايز انډيوالان دي چې د پشکال د سيلاب په څير، د طالبانو ګړندی سوبې ښه سم دم وار خطا کړيدي. شتمن عربي هيوادونه د خپلو انديښنو لپاره دوه منطقي لاملونه لري:

**لومړی** دا چې دوئ فکر کوي که امريکا خپل برکتي لاس د هغوئ له سرونو څخه پورته کړي، نو د ښاغلي اشرف غنی د فاسدې اداري په شان به دوئ هم تالا ترغی شي.

**دوهم** يې د عربي ورځپاڼو تبصرې دي چې «غربيان داسې دوستان دي چې يار له کوڅې تيروي او رنګ يې هيروي».

اوس چې دولت ړنګ شو، نو د جنګ تبه هم سړه شوه او سوله راغله. ولې د نا ليدلي دښمن سره د ډغرې سکروټې لا هم بلې ښکاري چې د هوايي ډګر د تيرې ورځې خونړۍ پيښه يې د ګواهی لپاره کفايت کوي. پخوا به هره ورځ په متوسط ډول، د دواړو خواو څخه دوه سوه تنه ځوانان د جګړې د ښامار له ستوني تيريدل. خو په تيرو دوو هفتو کې د طالب وياند له قوله؛ په هيڅ جبهه کې د چا پوزه هم نه ده سره شوې. له دې امله، نور د غالب او مغلوب د اصطلاح کارول، کوهاټ ته د مالګې د وړولو مانا لري. بايد چې فتوی له سنګر څخه بيرته منبر ته ستنه شي او د خپل ولس سره د ټوپک د شپيلۍ په ځای، د ملي مصلحت لهجه خپله شي. له دې وروسته د جنګ او جهاد ترانې، د وينو دلالي ده. افغانستان نورو اتلانو او مارشالانو ته اړتيا نه لري.

د هيواد وروستي ۴۳ کلونه د لسو واکمنانو «محمد داود، تره کي، امين، کارمل، نجيب الله، مجددي، رباني، ملا محمد عمر، کرزي او اشرف غني» واک ته د رسيدو او ليرې کيدو شاهدان دي. سره د دې چې دغه پير ډير خونړی او د تاريخ يو عيبجن انځور دی، خو تسلسل يې درلود او بې دمې روان وو. ولې دا لومړی ځل دی چې دوه اونۍ وشوې مګر د حکومت څرک نه لګي. که د چا په تندي کې د سجدو تور محرابونه هم وي، نو د سود سودا بدله يې له آخرت سره ترلې ده. ولسونه په ايډيالوژيو او شعارونو نه خوشحاليږي، بلکې دوئ امن، عدالت، اعتدال، کار او آسانتياوې غواړي. په داسې يو ترينګلي چاپيرال کې لږه سياسي بد پرهيزي، د غتې انساني غميزې لامل ګرځي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

ښاغلي ذبیح الله مجاهد په خپل لومړني مطبوعاتي کنفرانس کې وویل چې موږ د غچ له پالیسی سره خدای په امانې کړې او هر ډول رغوونکې نیوکې او مشورې ته سترګې په لار یو. قرآن کریم مؤمنانو ته داسې فرمایي:

**«إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا»**

**(الله تعالی تاسې امر کوي چې امانتونه خپلو څښتنانو ته وسپارئ)**

نو تر ټولو لوی امانت، د رعیت پالنه، کار خپل اهل ته سپارل، د ملي ارزښتونو مراعت کول او د وګړو د شخصیت درناوی کول دی. د ابو داود روایت دی چې حضرت پیغمبر (ص) فرمایي:

**«أنْزِلوا الناسَ منازِلَهم»**

**(له خلکو سره د هغوئ د حیثیت او اهلیت پر بنسټ ګوزاره وکړئ.)**

د افغانستان د نفوسو ۶۳ سلنه ځوانان او عمرونه یې له ۲۵ کلونو څخه کم دي. دوئ د ټولنیزو رسنیو سره همدومره اشنا او روږدي دي، څومره چې ښاري ماشومان له چوشک سره ویده کیږي او بیداریږي. نن د هر چا په جیب کې یو خبري آژانس او یو ټلویزیوني چینل پروت دی. هره وړه او زړه واقعه د سترګو په رپ کې پرته له کوم سانسور او مراقبت څخه، له سډني څخه تر نیویارک او له سایبریا څخه د امازون تر پراخو ځنګلونو پورې رسیږي. همدا رنګه تر ټولو مهمه دا ده چې الله تعالی پخپل کتاب کې ښځې او نر ته د برابر او پوره انسان خطاب کړی او د ثواب، عذاب او رضا معیار یې تقوی په نښه کړیده. میرمنې باید په هیڅ ډګر کې له پامه ونه غورځول شي، ځکه دوئ د دې هیواد نیمه برخه ده.

د اشرف غني او عبدالله عبدالله د نیم زالي او غیر متجانسي واکمنی حال خو دا وو چې په خبره یې چا پیاز هم نه خوړل. د فاریاب د والي پسې د بابا دوستم د کفن کشانو لښکر راووت او بیچاره ګې په منډه بیرته کابل ته راغی.

طالبانو د کابل لپاره خپل والي، د کار په شپږمه ورځ له دندې ګوښه کړ خو د چا له خولې سپوږ هم ونه خوت. د سترو امپراطوریو د زوال او عروج تاریخ په ګوته کوي چې نظامونه او دولتونه تل له داخل څخه ړنګیږي. که څوک غواړي چې د ځواکمنو پاچاهیو د کنګال کیدو لاملونه ومومي، نو د ډاکتر محمد محمد حسین « حُصُونُنَا مُهَدَّدَةً مِن الداخل – څموږ ماڼۍ او قلعه ګانې له داخل څخه د نړیدو له ګواښ سره مخ دي» کتاب دې ولولي. افغان حکومت هم، د نا اهلو پرګټو د میم زر ما تولـه ځما نانډریو، د ژبې او قوم بوئ ناکو نارو، من افغان نیستم شعارونو او مالي او اخلاقي پساتیو تسمه تسمه کړ.

په ښاغلي اشرف غني تور دی چې د ملک څخه د تګ په مهال یې په شین لیکو بوجیو کې ۱۶۹ ملیونه ډالره له ځانه سره وړي دي. که چیرې رښتیا وي؛ نو غټ غدر یې کړې او باید له ګریوانه ونیول شي. دې جناب به د ناکامو دولتونو د جوړولو نسخې لیکلې، مګر خپل ملک یې واسکټ واسکټ ترشا پریښود. په عین حال کې، ډیرې څارونکي باور لري چې د کابل جان د بیا ورانی او د زرګونو وطنوالو د مرګ د مخنیوي لوبه یې د شاباش وړ ده، کنه نو د رقص مرده او میخونو د ټک وهلو کیسې به بیا تکرار شوې وې.

په تیرو شلو کلونو کې د افغانستان لوې اکثریت په ناګټلو کې حسابیده او وفادار لړه کې په دوئ واکمن او هستمن شول. په یادې مودې کې یواځې د امریکا متحدو ایالتونو، هره ورځ درې سوه ملیونه ډالر مصرفول چې له دوه ټرلیونو څخه اوړي، خو پایله یې پرانیستې کتاب دی. بلې، ډیر څه وشول، پریمانه لاسته راوړنې لرو، خو دریغه دریغه؛ افغانستان د ګردې نړۍ په هیوادونو کې ناسکه او نیستمن هیواد دی.

بچې د باز وي که د ټپوس؛ تر هغې د الوتلو وړتیا نه لري ترڅو یې وزرې له ښکو ډکې شوې نه وي. دلته ډیموکراسي د هغه چا په اوږو سپره راغله چې د قلم په ځای یې ټوپک په لاس کې وو او د ځینو خو د ځنګلو په ځای، د تخرګونو پورې لاسونه په وینو سره وو. دغه خلک د ملت په منځ کې رټل شوي او د زعامت وړتیا یې نه درلوده. د ناصر خسرو خبره د کاڼي کرښه ده چې « از ماست ، که بر ما ست». همدا شان فکر کوم د لندن څخه د خپریدونکې معتبرې ورځپاڼې، آبزرور د اګست په درویشتمې نیټې دا خبره هم پوره وزن ولري چې لیکلي یې دي:

**«هغه څه چې په افغانستان کې پیښ شول،**

**هغه د غرب لپاره د اخلاقو او ډیموکراسی تاریخي ماتې ده.»**



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولــئ